دامتیاز خاوند : دعدلیې وزارت
مسئول مدیر : محمد یوسف روشنفکر
تلفون ۲۳۳۳۰
پته : رسمی جریده کابل افغانستان

# رسمی جریده

دافغانستان د پاچاهی دولت رسمی خپرونه

دانتخاباتو دفوق العاده گنی
ضمیمه

۳ گڼه | پنجشنبه دثور (۲۳) | ۱۳۴۴ هجری شمسی کال | پرله پسې گڼه (۲۵)

# دشورې دانتخاباتو په باب باچائی اعلام

د ۱۳۴۴ هـ ـ ش کال دثور د میاشتې دوه ویشتمه نیټه

زما گرانه ملته!

دلوی خدای شکر کوم چه زمونږ هیواد ته ئې د نوی اساسی قانون په سیوری کښې او دهغه نظام سره سم چه دغه قانون پری بنا شوی دی دعمومی انتخاباتو دلومړنو مقدماتو دراغونډولو توفیق وباښه.

دشورې لویه موسسه چه مونږ ئې داسلام دلا فانی تعلیماتو دپیروی له مخه دافغانستان دنوی نهضت دبانی اعلیحضرت محمدنادرشاه شهید په لاس اینبودل شویدی زمونږ دخلکو دارادې څرگندویه ده. داحقیقت دهر فرد ملی وجیبې ته چه ددولت ددې رکن په وړاندې ئې لری ډیر زیات اهمیت او څرگندتیا ورکوی اود انتخاباتو په وخت کښې دملی مسئولیت احساس او کامل دقت په هرچا فرضوی.

دادی دشورې دانتخاباتو دقانون دیو دیرشمې مادې دحکم په موجب دالاندی مراتب زما گران ملت ته اعلامیږی:

لمړی. ـ دمشرانو جرگې دغړو انتخابات دکابل، قندهار او هرات په ښارونو کښې چه هلته دانتخاباتو دڅارنې دهیئتونو شمار دشورې دانتخاباتو دقانون د پنځلسمې مادې په احکامو مطابق درایو ورکولو د مرکزونو سره برابر دی اوله دی کبله دانتخاباتو دمودی دوام له پنځو ورځو څخه نه زیاتیږی، د ۱۳۴۴ ش کال دسنبلې په دولسمه ورځ شروع کیږی.

دوهم. ـ دولسی جرگې دغړو انتخابات د مملکت په گوټ گوټ کښې د ۱۳۴۴ هـ ش کال دسنبلې په څلورمه نیټه شروع کیږی.

دریم. ـ دانتخاباتو دڅارنې مرکزی هیئت به دروان کال دثور په پنځویشتمه نیټه دشورې دانتخاباتو داحکامو مطابق پخپل کار لاس پورې کړی

څلورم. ـ دشورې ددواړو جرگو دانتخابونکو جدول به د ۱۳۴۴ کال دجوزا دمیاشتې په نولسمه نیټه دقانون داحکامو سره سم نشرشی.

هیله لرم چه په دی لویه ملی وظیفه کښې به زمونږ د گرانو وطنوالو گډون دسیاسی پخوالی اوهغې مثبتې علاقې څرگندوی وی چه زمونږ اولس یې د دولت دامن اونظم درعایت سره سره له خپلو سیاسی حقونو نه داستفادې سره لری.

دلوی خدای نه غواړم چه زمونږ په دی درنه تاریخی مرحله کښې د دوی مرسته ددولت او دخوا زه هیواد له افرادو سره ملگری وی.

محمدظاهرشاه
دافغانستان باچا

# اعلام پادشاهی راجع به انتخابات شوری

مورخ بیست و دوم ماه ثور ۱۳۴۴ هـ ـ ش

ملت عزیزم!

خداوند بزرگ را سپاسگذارم بکشور ما توفیق می بخشد مقدمات نخستین انتخابات عمومی را در سایهٔ قانون اساسی جدید وبروفق نظامی که بران بنا یافته فراهم می نماید.

موسسه بزرگ شوری که تهداب آن به پیروی از تعالیم جاوید اسلام بدست بانی نهضت جدید افغانستان اعلیحضرت محمدنادرشاه شهید گذاشته شده مظهر اراده مردم ما میباشد این حقیقت وجیبه ملی هر فرد راکه در برابر این رکن دولت دارد خیلی بارز و پراهمیت می سازد و احساس دقیق مسئولیت ملی را در موقع انتخابات فریضهٔ همه میگرداند.

اینک به موجب حکم ماده سی ویکم قانون انتخابات شوری مراتب ذیل به ملت عزیزم اعلام میشود :

اول. ـ انتخابات اعضای مشرانو جرگه درشهرهای کابل قندهار وهرات که در آن تعداد هیئت های نظارت انتخابات بموجب مادهٔ پانزدهم قانون انتخابات شوری مساوی با تعداد مراکز رای گیری است وازآن رو مدت دوام انتخابات از پنج روز تجاوز نمیکند بروز دوازدهم ماه سنبله ۱۳۴۴ هـ ش آغاز خواهد گردید. دربقیه انحای دولت انتخابات اعضای مشرانو جرگه بتاریخ چهارم ماه سنبله ۱۳۴۴ هـ ش آغاز خواهد یافت.

دوم. ـ انتخابات اعضای ولسی جرگه در همه انحای دولت بتاریخ نزدهم ماه سنبله ۱۳۴۴ هـ ش آغاز خواهد شد.

سوم. ـ هیئت مرکزی نظارت انتخابات سر از تاریخ بیست وپنجم ماه ثور سال جاری به وظیفه خود مطابق به احکام قانون انتخابات شوری آغاز می نماید.

چارم. ـ جدول انتخاب کنندگان هردو جرگه شوری بتاریخ نزدهم ماه جوزا سال ۱۳۴۴ مطابق به احکام قانون نشر خواهد گردید.

امیدوارم اشتراک هموطنان عزیز ما در اجرای این وظیفهٔ بزرگ ملی مظهر بارز نضج سیاسی و آن علاقهٔ مثبتی باشد که مردم ما به استفاده از حقوق سیاسی خود با رعایت امن ونظم دولت دارند.

ازخداوند تبارک وتعالی مسئلت می کنم در ین مرحله مهم تاریخ ملی ما توفیق ایزدی شامل حال دولت وافراد کشور عزیز باشد.

محمدظاهرشاه
پادشاه افغانستان

# دشورې دانتخاباتو په قانون

کښې دځینومندرجومیعادونو

دتعدیل په باب ددغه قانون ضمیمه

د افغانستان د پاچاهي حکومت دوزیرانو تولنې د۱۳۴۴ هـ ش کال دثور ددوه ویشتمې نیټې په غونډه کښې تصمیم ونیوچه :

۱ - دشورې دانتخاباتو په قانون کښې مندرج میعادونه دې په دې ډول تعدیل شي :

الف - په نهمه ماده کښې دراغلې شپږومیاشتو موده دې په درې میاشتو تعدیل شي .

ب - په شلمه ماده کښې دراغلې څلورومیاشتو موده دې په اته نوی ورځو تعدیل شي .

ج - په دوه ویشتمه ماده کښې دراغلې درې میاشتو موده دې په دوه نیمو میاشتو تعدیل شي .

د - په یودیرشمه ماده کښې راغلې دثور دمیاشتې اول دې دثور د میاشتې په پنځو یشتم تبدیل شي .

۲ - داتعدیل یواځې دشورې دهغو انتخاباتو په باب تطبیقیږي چه په ۱۳۴۴ هـ ش کال کښې اجرا کیږي .

# دښاروالیو دانتخاباتو داجراء

په باب

د۱۳۴۴/۲/۲۵ هـ ش نیټې (نهمه) گڼه قانون .

دافغانستان دپاچائي حکومت دوزیرانو تولنې د۱۳۴۴ هـ ش کال دحمل ددیرشمې نیټې په غونډه کښې تصمیم ونیوچه :

۱- دعدلیې وزارت دې دداخلې وزارت په ملگرتیا دښاروالیو په اصولنامه باندې له نوی سره دغور کولو او داساسي قانون او دشورې دانتخاباتو دقانون داحکامو دارزښتو نو سره دهغې دبرابرولو دپاره لازم اقدام وکړي .

۲- دنوی قانون ترنافذکیدو پورې دې دښاروالیو دانتخاباتو دلومړی مادې مندرجات دشورې دانتخاباتو دقانون داحکامو مطابق دولایت دانتخاباتو دڅارنې دهیئت دڅار لاندې اجرا شي .

۳- ددې قانون احکام دښاروالې دټولنې دغړو په انتخاباتو اود ښاروال په انتخاب تطبیقیږي .

۴- داتصمیم یواځې دانتخاباتو داجرا په طرز او دانتخاباتو په څارنه پورې تعلق لري، په انتخاباتو پورې نورې مربوطې مسئلې دښاروالي داصولنامې داحکامو مطابق اجرا کیږي .

# ضمیمه قانون انتخابات شوری

راجع به تعدیل بعضی مواعید مندرج قانون مذکور

مجلس وزرای حکومت پادشاهی افغانستان درجلسه تاریخی بیست ودوم ماه ثورسال ۱۳۴۴ هـ ش تصمیم گرفت که :

۱ - مواعید مندرج قانون انتخابات شوری قرار ذیل تعدیل گردد :

الف : مدت ششماه مندرج ماده نهم به سه ماه تعدیل شود .

ب - مدت چار ماه مندرج ماده بیستم به نودوهشت روز تعدیل شود .

ج - مدت سه ماه مندرج ماده بیست ودوم به دونیم ماه تعدیل شود .

د - اول ماه ثور مندرج ماده سی ویکم به بیست وپنجم ماه ثور تبدیل شود .

۲ - این تعدیل تنها در مورد انتخابات شوری که درسال ۱۳۴۴ هـ ش اجراء میشود تطبیق می گردد .

# قانون شماره - ۹

تاریخی ۲۳ ثور ۱۳۴۴ هـ - ش

راجع به اجرای انتخابات ښاروالی ها

مجلس وزرای حکومت پادشاهی افغانستان درجلسهٔ تاریخی سی حمل ۱۳۴۴ - تصمیم گرفت که :

۱- وزارت عدلیه باتفاق وزارت داخله برای تجدید نظر بر اصولنامهٔ ښاروالی ها وهم آهنگ ساختن آن با ارزشهای قانون اساسی واحکام قانون انتخابات شوری اقدام لازم بکند.

۲- تانفاذ قانون جدید مندرجهٔ ماده اول، انتخابات ښاروالی ها مطابق به احکام قانون انتخابات شوری تحت نگرانی هیئات نظارت انتخابات ولایت اجرا گردد .

۳- احکام این قانون برانتخابات اعضای انجمن ښاروالی وانتخاب ښاروال تطبیق میگردد .

۴- این تصمیم تنها به طرز اجرای انتخابات ونظارت آن تعلق دارد بقیه مسایل مربوط بهانتخابات برطبق احکام اصولنامهٔ ښاروالی اجرامیگردد .

دپوهنې مطبعه